مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۲/۰۱/۱۰

# لویه تلوسه

## درویشتمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

### دوهمه برخه

### دویم فصل

**د مرغاب سیند:**

مرغاب سیند د افغانستان، ترکمنستان په لرغوني تمدن کي خورا غوره نقش لري. مرغاب د مروي د تمدن او آبادی سرچینه دی. د مروی سیمه او ښار د خراسان له څلورو لرغونو ایالتونو څخه یو ایالت دی. البته نوي مروه د قره قوم د کانال په برکت له تاریخی مروې څخه ډېره زیاته پراخه او خورا آباده دی .هغه کانال چي له جیحون څخه د ترکمنستان تر ختیځه پروت دی او کلنی توګه ۲۲ ملیارده مترمکعب اوبه یوازې ترکمنستان ته لیږدوي..

د افغانستان د اوبو په اطلس کي او د افغانستان په نورو اوبیزو ماخذونو کي د مرغاب حوضه او د هریرود حوضه تل یوځایي یادې شوي دي او آمار یې هم یو ځایي ورکړل شوي دي.

مرغاب په کلنی توګه کابو ۲۰۰ / ۱ ملیارده متر مکعب اوبه ترلاسه کوي. افغانان له مرغاب اوبو څخه زیات کار نه اخلي او د اوبو زیاته برخه له افغانستان څخه ووځي او ترکمنستان ته ځي.

ځینی افغانان غواړي چي په مرغاب باندي دی بند وتړل شي. دغه بند باید تر ډېره د اوبو بریښنا ترلاسه کولو په موخه وي، ځکه چي مرغاب پر مخ د اوبو د وړاندوینه شوِ بند په لاندنی (کوزنی ) برخه کي د کرکېلي هومره ځمکه د افغانستان په خاوره کي د ننه شتون نلري.

د ایران دولت هم باید هلي ځلي وکړي چي د بند په جوړونه کي اساسي نقش ولري که وتوانیږو د ایران، افغانستان او ترکمنستان په درې اړخیزه معاهده کي د مرغاب د اوبو دریمه برخه وپیرو د هیواد په ختیځ کي په تیره بیا په کشف رود او مشهد دشت کي به مو د اوبو کمښت سره لویه مرسته کړې وي.

د بالا مرغاب پاسنی برخه په افغانستان خاوره کي ده او ترکمنستان له مرغاب څخه دودیزه خو له قرارداد پرته اوبه برخه لري. مونږ قانوني توګه په مرغاب کي هیڅ نقش نلرو. خو د قره قوم کانال په لرلو سره؛ مرغاب اوبو ته د ترکمنانو اړتیا کیدی شي د ۳۰۰ څخه تر ۴۰۰ ملیون مترمکعب په حدودو کي راښکته شي. ایران کولای شي د افغانستان یا د ترکمنستان له اړتیاوړ اضافي اوبه ، یا د دواړو اضافِ اوبه په ګډه، وپیري.

په هر صورت کي هوکړه باید درې اړخیزه وي. که چیرې مونږ یوازي له افغانانو یا یوازي له ترکمنانو سره هوکړه لیک ولرو، یقیني توګه چي ستونځو سره مخ کیږو. هوکړه باید درې اړخیزه وي. لازمه ده چي باید تکره ماهرین له مرغاب څخه د ترکمنستان د سنتي اوبو برخه مشخصه کړي. په عملي توګه د دې امکان شته چي مونږ د مرغاب کم له کمه دریمه برخه اوبه واخلو، موجود دی. ایران ته د مرغاب د اوبو لیږدونه له څو لارو شوني ده: وړاندیز کوو چي د افغانستان، ایران او ترکمنستان درې واړه دولتونه دې د لارو چارو لهټې دپلې د لاندې طریقو موندنې لپاره په دې اړه مذاکرې پیل کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**ځيني انګليزي لارې چارې:**
**۱ – هريرود حوضې ته د اوبو پمپولو او د اوبو راګرځولو له لارې او د ايران په پوله کې د اوبو ترلاسه کول.**
**۲ – د يوه تونل له لارې چې وکړای شي د مرغاب بند له شا اړخه اوبه په ثقلي توګه د ايران په پوله کې هريرود ته ولېږدوي.**
**کېدای شي ساده لاره بې دا وي چې مونږ پېرودل شوې اوبه ترکمنو ته وسپارو او په بدل کې يې د دوستی د بند په شا کې د ترکمنو له ونډې اوبه واخلو ياني که چېرې د مرغاب د حوضې ۳۰۰ تر ۴۰۰ مليون متر مکعب اوبه مو وپېرلې اوبه هريرود ته له مرغابه را انتقال نه کړو بلکې ايران له خوا پېرودل شوې اوبه ترکمنستان ته تحويل کړو او په بدل کې يې په دوستی بند کې د ترکمنستان اوبو برخې څخه د هغو معادل اوبه ترلاسه کړو.**

پر دواړو سيندونو حاکم اقليم هم عملاً يوشاني دی . يا نې که چيرې پر هريرود وچکالي يا لوند کالي حاکمه شي پر مرغاب به هم حاکمه شي. ځکه چې کيدی شي دغه پوښتنه راولاړه شي چې که کوم کال هريرود کې وچکالی وي او مرغاب اوبه ولري بايد څه وکړو؟ البته اقتصادي لحاظه مسئله د هواري وړ ده خو د مسئلې اقتصادي هواری د مسئلې د هواري يوه برخه ده. د اوبو کمبود څنګه کړو؟ نو له دې امله ځيني باور لري چې که چيرې ټاکل شوې وي د مرغاب اوبه واخلو بايد د تونل له لارې هريرود ته راولېږدول شي. **په هر صورت په دې کتاب کې اصلي مسئله د فعالې ډيپلوماسی درلودل دي چې هر چرته چې زمونږ شاو خوا اوبه وي ايران د هغوی په اړه بابيزه پاتې نشي. ګاونډيانو او د هغوی له خاوندو هيوادونو سره مذاکره پيل کړي.** داچې اوبه څنګه ايران ته راولېږدول شي يوه فني مسئله ده چې کارپوهان به يې وټاکي. خو تل له دريم هيواد د اوبو او يا د بل هر محصول د مسير انتخابونه يوازی فني کار هم نه دئ بلکی يو ډيپلمټيک، سياسي. تولنيز، امنيتي او پراختيايي کار هم دئ . بايده دي ماهرين، سياستوال، ډيپلماتان د کار له پيلېدو مخکې د مسير څرنګوالی روښانه کړي.

**د مرغاب اوبو څخه ګټې اخيستو لپاره کولای شو څو کارونه ترسره کړو:**

۱ ـ د دوستی بند څخه مشهد پر لور د اوبو د اوسني پمپاژ سيستم پراخ کړو او هغه دوه برابره کړو څو مشهد ته زياتې اوبه ورسيږي.

۲ ـ په سرخس دشته او چکودر دشته کې نورې زياتې ځمکې هم تر کرنې لاندې ونيسو. ښکاره ده چې په انتقالی اوبو د کرکيلې پېونه اقتصادي نه ده .

۳ ـ دوستی بند څخه بَر؛ يو بل بند جوړ کړو. ساري په توګه په شرشرې کې يا له هغه ور بر. او د تربت جام، تايباد، خواف او د مشهد د يوې برخې اوبه له دغو اوبو تامين کړو .

۴ ـ په مرغاب اوبو کې کولای شو يوازې اوبو برخې درلودلو او ګټې اخيستو (اوبه- اوبيزه بريښنا - کرکيلی لاندې ځمکې - د کبانو روزنې يا د پانګې مستقيمې ګټې لاسته راوړلو) لپاره پانګونه وکړو .

۵ ـ کولای شو په مرغاب کې يا د افغانستان په نورو سيندونو کې پانګونه وکړو. او هلمند څخه د پانګې د ګټې په بدل کې نورې زياتې اوبه تر لاسه کړو .

۶ ـ د مرغاب اوبو لېږدونې او يا په مرغاب پروژه کې پانګونې څخه د ګټې ترلاسه کولو لپاره نورې لارې هم شتون لري. يو هغه داچې اوبه ترکمنستان ته ور تحويل کړو او مونږ د قره قوم کانال اوبو څخه د کانال په وروستی برخه کې د ترکمن صحرا په مخامخ محدوده کې اوبه واخلو او په هغو مصارفو بې، چې په ترکمن دشت او ګلستان ولايت کې ټاکل کيږي، ولګوو. په هر صورت د افغانستان په اوبيزو تاسيساتو او اوبيزې بريښنا کې زمونږ پانګونه کولای شي هم مونږ ته او هم افغانستان ته ګټوره وي.خو دغه چارې نبايد زمونږ اړيکې نورو هيوادونو سره زيانمنې کړي . ځواکمنه ډيپلماسي هغه ده چې هغه شان عمل وکړي چې د ټولو ګټې وساتل شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

افغانان به یوازې د خپلو ملي ګټو ساتنې او د ګډې پراختیا په بدل کې حاضر وي چې د ایران ګټې تامین کړي او لکه د کمال خان بند په څېر د انحرافي بندونو له جوړولو تیر شي او یا په داسی توګه بند ورغوي چې د ایران ګټو ته زیان ونرسیږي.

| |
|---|
| **د مرغاب په برخه کې هر ډول کار یا ګام اوچتول باید د افغانستان او ترکمنستان په موافقه وي. دغو دواړو کې د دغو هر یوه هیواد غیبت به مونږ ته ستونځې را منځ ته کړي. مرغاب د افغانستان او ترکمنستان شریک سیند دی د پانګوونکې او پېرودونکې ګاونډي په عنوان زمونږ حضور باید د دواړو په هوکړه وي.**<br>**هلمند او هریرود څخه د تثبیت شوې حقابې درلودل د ایران ختیځ د پراختیا کلي ده . افغانان هم باید ډاډمن شي چې د ایران د حقابې تضمینول د افغانستان د لویدیز د پراختیا په مانا دي.** |
| **د ایران د دغه حق تامینول کولای شي ورور هیواد افغانستان ته د هلمند او هریرود حوضې او د ټول افغانستان پراختیا په خاطر، یو فرصت وي. د دواړو هیوادونو ډیپلماتان باید له ترلاسه شویو فرصتونو ډېره زیاته ګټه پورته کړي او دې ته ځیر واوسي چې فرصتونه په ګواښ بدل نشي.**<br>**د ایران ډیپلماټان باید پوهه شي تر څو چې کولي شي پر مثبتو سیاستونو او د ملګرو ملتونو تر څار لاندې په دوه اړخیز او دري اړخیزو همکاریو باندې ډډه ولګوي. که څه هم سلبی سیاستونه نباید هیڅکله په کلي توګه شاته وغورځول شي خو پدې سیاستونو سره به هیچا ته پراختیا حاصله نشي.**<br>**افغانستان په وړاندې زمونږ د اوبو ډیپلماسي کیدی شي په ټوله نړی کې د ایران د اوبو د ډیپلماسی د معمی کونجي ( د اړ کلي ) وي.** |

په هرحال تاکید کوو چې له ۱۵۰ زیات کلونه کیږي چې ایران او افغانستان د پولي اوبو پر سر یو بل سره مذاکرې کړي دي. انګلیسان، امریکائیان او ترکان او ملګرو ملتونو سازمان او نور بې منځګړي او حَکَم کړي دي. هلمند اوبو په تړه بې کله ۵۰ ـ۵۰ ټاکلي دي او کله له دریو یوه او له دریو دوه او پای کې بې ۲۶ مترمکعب چې شاوخوا ۱۰ سلنه کیږي قرارداد تړلی دی . هیڅ یو هم راضي نه دی.

د دې ۱۵ کلونو په اوږدو کې انګلیس دوه ځلې نړیوالې جګړې سره مخامخ شوي دي. او له زبرځواکی او زمونږ له ګاونډیتوبه لوېدلی دی. قاجار او پهلوي رژیمونه تاریخ سره یو ځای(سپارل) شوی دي او ځای بې اسلامي جمهوري نیولی دَی. د افغانستان شاهي دولت نابود شوَی دَی . د افغانستان په شوروي پورې تړلي حکومتونه یو بل پسې پرېوتي دي. طالبانو د مجاهدینو حکومت ړنګ کړ او پخپله د امریکاییانو لخوا راپریوت. اوس د افغانستان جمهوریت واکمن دی. مونږ د یوه فرهنګ دوه برخې یاستو دواړه د سیستان د فرهنګی میراث مدعیان یاستو. دواړه هیوادونه د رستم، سهراب، تهمینې په هیواد او د فردوسی په شاهنامې ویاړ کوو. خو توانیدلی نه یو یا مو نه دې غوښتي د ګډې پراختیا لاره ومومو. باید دواړه هیوادونه پاملرنه وکړي که څه هم په دواړو هیوادونو واکمن رژیمونه دوه دي خو د هغوی جغرافیه، اقلیم، اوبه، خاوره سیند او د اوبو سرچینې یو دي. په پام کې ونیسي چې د سیستان فرهنګ یو دَی. اتلان، جګړې ، وچکالی، قحطې او سیلابونه بې یو دي.

کوم سیاستونه چې استعمار انځور کړي دي یوې خوا ته کېږدو او دواړو سیستانونو لپاره یوه ګډه پراختیایي برنامه جوړه کړو. لاسونه سره ورکړو. او خپل سیستان ودان کړو. د افغانستان آبادي د ایران آبادي دی او د ایران آبادي د افغانستان آبادي دی. ایران پانګه، ټېکنالوجي او ارز لري او افغانستان اوبه ځمکه او ارزان او د ډېر لوړ کاری فرهنګ درلودونکي کارګران. په فرصتونو باندی کار وکړو نه په ګواښونو. دواړه هیوادونه دې سلبی سیاستونه شاته وغورځوي او ایجابي سیاستونو باندې دې کار وکړي. د افغانستان خصوصي برخه که ډاډمن شي چې خبره د پراختیا ده په دې چارو کې پانګونه کوي. مونږ او افغانان باید د زابل او زاهدان او کندهار پراختیا یوبل سره نغشتې او تړلی ووینو. پرته تر دې یو سلو پنځوس کاله دې نور هم وي نه به زمونږه هیرمند سیمه آبادیږي او نه د هلمند سیمه.

هرڅه چې مې وغوښتل ولیکم ستاسو هلمند ونشو(ونتوانیدم). زمونږ وینه په هیرمند او هلمند کې جاري ده سیاسي پولې مو دوه دي، خو آیا زمونږ فرهنګي، دینی، تاریخی، حماسی او لرغونپېژندنې پولي هم دوه دي؟ والله چې ندي. نو زمونږ وده او پراختیا هم دوه نشي کېدی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ترکمنستان سره د اوبو ډیپلوماسي:**

ترکمنستان سره د اوبو د ډیپلماسی اساس هماغه دی چې له نورو هیوادونو سره دی. د ایران د ګټو ساتنه، اوبو زیرمو ته لاسرسی او ښه ګاونډیتوب سوله او دوستي او سیمه ییزه نیکاومنه ګډه پراختیا.

۱ ـ افغانستان د هلمند او هریرود له لاری ایران ته اوبه رالیږي او کومی اوبه له ایران نه تر لاسه کوي ( افغانستان هریرود- مرغاب ـ آمو دریا او ... ترکمنستان ته اوبه لیږي او له ترکمنستان څخه هیڅ اوبه نه ورځي )

۲ ـ ایران ترکمنستان ته اوبه ورکوی خو سومبار برخي څخه پرته چې اترک سره یو ځای کیږي له ترکمنستان اوبه نه ترلاسه کوي. پدی اساس مونږ افغانستان څخه اوبه اخلو او ترکمنستان ته اوبه استوو.

په نه چندان نږدی راتلونکی کې به :

۳ ـ افغانستان او ترکمنستان دواړه هیوادونه به ایران لپاره په ځانګړې توګه د ایران ختیځ لپاره د اوبو د ترانزیت هیوادونه وي.. زمونږ ډیپلماسي به ترکمنستان په اړه په لنډ مهاله کې د اوبو ورکول او په اوږد مهاله کې د اوبو ترلاسه کول وي. یاني ترکمنستان کولای شي په راتلونکي کې مونږ ته د اوبو په ترانزیټ کې ټاکونکی(کلیدي) رول ولوبوي. هغه اوبه چې بایده دي له مرغاب، آمو سیند ، سیر دریا، ایرتیش او اُب او ولګا او شاید یو وخت هم له ینی سئی او لُنا راوړل شي.

نو ترکمنستان سره د اوبو ډیپلماسي کېدَی شي په دریو لنډ. منځي او اوږد مهاله پړونو(پړاونو) کې تعریف شي. ترکمنستان سره د اوبو ډیپلماسی ته باید د یوه اوږد مهال لور لید له مخي او په دي موخه چې دغه هیواد به مونږ ته د اوبو ترانزیتولو یو عمده هیواد وي. وکتل شي. او که چیرې ترکمنستان سره د اوبو ډیپلماسي ته لنډمهاله او جغرافیه یي لیدلوري له لحاظه ولیدل شي، ښایي له سختو سلبی سیاستونو سره نغښتي وي. دغه ډول ډیپلوماسی کیدی شي مونږ، له آمو دریا، ایرتیش، ولګا او نورو اوبو څخه د ګټي اخیستو اوږد مهاله موخو ته په رسیدو کې، له ستونځو سره مخامخ کړي.

وضعیت په اوسنیو شرایطو کې څنګه دی؟

نوربیا

**ایران او ترکمنستان ترمنځ ګډ رودونه**(سیندونه)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ